هدايت الله هدايت
۲۰۱۰/۰٤/۲۲م

# د نړۍ د وتلو رسنيو او ورځپاڼو پېژندنه (۱۷) الجزيره

«الجزيره» ټلويزوني شبکه



د قطر په دوحه کي د الجزيره ټلوېزون خبري سټيډيو

د الجزيره خبري ټلويزوني شبکه په عربي نړۍ کي تر ټولو وتلي او مشهوره خبري رسنۍ ده چي د قطر په دوحه کي خپلي سيمه ايزي او نړۍ واله ژورنالېستيکي او رسانه ای خپروني وړاندي کوي . دغه شبکه دکال ۱۹۹۶ په وروستيو کي هغه وخت فعاله سوه چي د هماغه کال د اپرېل په مياشت کي دبي بي سي د ټلويزوني شبکي نړۍ واله برخه چي د عربي هيوادو د پاره يې په عربي ژبه په سعودي عربستان کي خپروني درلودلې، د هغه هيواد د دولت لخوا تر فشار لاندي راغله ، ترڅو پر ځينو خپرونو باندي سانسور و لګوي . خو دغه سانسور د بي بي سي د چاروا کو لخوا و نه منل سو هغه وو چي دخپل دوکالو فعاليت نه وروسته يې په سعودي عرب کي خپل فعاليتونه بند او دفتر و دېوان يې په دې هيواد کي وتاړه . په عربستان کي د بي بي سي ددې نړۍ والي شبکي د تړلو وروسته، د الجزيره ټلويزوني شبکه د قطر په دوحه کي ايجاد او ددغي شبکي مسلکي او حرفوي کارمندان يې په خپله نوبنياده اداره کي جذب کړل.

د الجزيره ټلويزوني او خبري شبکه د قطر د امير شيخ حمد بن خليفه آل ثاني لخوا د ۱۵۰ ميليون امريکايي ډالرو په پانګي اچوني سره فعاله سوه، نوموړي په دې توګه ددې شبکي د دلاري د سيمي د قدرت په بازيو کي ځان و ميدان ته را وايست ترڅو د خپل اصلي حريف سعودي عربستان څخه ځان برلاسی او د سيمي په راتلونکو پرمختياوو کي فعاله برخه واخلي.

قطر چي د سعودي عربستان په شمالي سواحلو کي پروت د جزيري غوندي يوکوچنی هيواد دئ ؛ څه کم يو ميليون او دوه لکه تنه نفوس لري . دغه هيواد په عربي نړۍ کي د شبځانو تر ټولو موړ هيوادئ چي يو ليبراله دولت يې جوړ کړی دئ . د قطر امير چي پخپله يو خورا ثروتمنده شخص دئ د امريکې سره ډيري نيژدې اړيکي لري او په قطر کي يې دامريکي ترټولو لويه سيمه ايزه او مجهزه پوځي اډې ته د فعاليت اجازه ورکړېده.

قطر په ۱۹ مه پېړۍ کي د عثماني امپراتوري او بيا د انګرېزانو تر سيطرې لاندي هيواد وو، دهمدې پېړۍ په نيمايي کي د آل ثاني کورنۍ پر دې هيواد خپله حکمروايي ټينګه کړه . قطر په ۱۹۷۱ ميلادي کال کي خپله خپلواکي تر لاسه کړه او دهغه را وروسته د خپل سر شاره نفتي او ګازي زېرمو له برکته په مينځني ختيځ کي په يوه اقتصادي قدرت واوښت . په ۱۹۹۵ ميلادي کال کي کله چي د قطر پخوانۍ امير شيخ عيسی بن خليفه آل ثاني د سويس په سفر بوخت وو د هغه زوی حمد بن خليفه آل ثاني، خپل پلار د يوې آرامي کودتا دلاري خلع کړ او پخپله ددې هيواد د امارت پر مقام کېنښاست . د هغه وخت راهيسي قطر و يوې نوي مرحلي ته ځان ور ننه ايست . د شيخ حمد بن الخليفه آل ثاني په دوره کي د مطبوعاتو آزادي نوی تحرک پيدا کړ چي د الجزيري د جنجالي ټلويزوني شبکي فعاليت يې يوه نمونه ده . ددغي شبکي د خپرونو په پيل کېدو سره قطر و کولای سوه ځان و ډيرو داسي لوړو امتيازو ته ورسوي چي پخوا يې هيڅکله هم نه درلود. قطر په دې وتوانېدی چي د يوه سيمه ائزه قدرت په حيث ځان ظاهر او ځانته يو نوی هويت ورکړي.

کله چي د قطر د امير لخوا د الجزيري شبکه رانيول سوه نو په نظر کي وه ترڅو په عربي هيوادو کي د يوې داسي بانفوذه خبري او اطلاعاتي منبع يوه حوزه ايجاد کړي چي د زياتو ليدونکو اعتماد را جلب او داشاني خبرونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

او برنامې خپرې کړي چي عربي ټلوېزونونو به پخوا د هغه څخه ډډه کوله . د شبکې دغه میتوډ د لیدونکو په راجلبولو کي ډېر ګټور ثابت سو.
د الجزیرې د ټلویوزوني شبکې د فعالیت په را شروع کېدو سره د پېټ خولومیلیوني عربي مخاطبانو و مخي ته نوي افقونه وپرانستل سوه . کلونه تېرسوي وه چي عربي حکومتي ټلویزونونو به ولسونه په اغفال کي ساتل او یوازي به یې د حکامو د خوښی د پاره کلېشه اي خبرونه او اطلاعات هغوی ته خپرول .خو په قطر کي د الجزیرې ددغه شبکې په پرانستلو سره د عربي سیاسي واکمنانو او روښنفکرانو ته داطلاع رسولو یونوی باب پرانستل سو، د خبرونو او تحلیلونویو نوی روایت و میدان ته را ووت چي په دې کار سره یې حتی د اروپا او امریکا ډله ائزي رسنیو هم د سیمي د هیوادو په مابین کي خپل د کلو کلو انحصار دلاسه ورکړ.

په عربي نړۍ کي د الجزیره د ټلویزوني شبکې د خبر رسولو میتوډ په خپل نوعیت کي څکه نوی و چي په عربي نړۍ کي لا تر اوسه دغه دود نه وو عام سوی، چي د یوه هیواد جمهور رئیس یا پاچا ته دي ځوک ګوته و نیسي او هغه دي تر انتقاد لاندي راولي . الجزیرې د عربي ولسونوپه مابین کي دغه شاني یو باور له مینځه یو وړ او دغه طلسم یې مات کړ، د ځینو عربي هیوادو دولتي مسؤلان او جمهور رئیسانو ته یې چلنج ورکړ ،خو څرنګه چي هغوی دداشاني د بیان د آزادۍ سره نه وه جوړه نو زیاترو یې په خپلو هیواد کي د الجزیرې د د فترو د پرانیستلو څخه ډډه وکړ .

د الجزیرې د غه د سټلایټ ټلویوزوني خبري شبکې د ۲۰۰۱ د سپټامبر د یولسمي ټروریسټي پېښي نه وروسته د اسامه بن لادن د بیانیو فلمونه خپاره کړل چي د لومړي ځل د پاره یې په غربي نړۍ کي ځان و افسانوي شهرت ته و رساوه . داچي څرنګه د الجزیرې اداره په دې توانېدله دغه فلمونه تر لاسه کړي یا داچي څرنګه د طالبانو د حاکمیت په دوره کي چي پخپله یې د ټلویوزون سره نه وه جوړه او هغه یې حرامه ګڼله، خو د الجزیرې و ټلوېزوني شبکې ته یې اجازه ورکړې وه په کابل کې خپل دفتر اوفعالیت ولري ، دا کردار ددې شبکې د فعالیت پټ اړخونه او ظرافت څرګندوي .

د امریکا لخوا د افغانستان او عراق اشغال، او د کومو جګړو ګزارشونه به چي د الجزیرې ټلویوزون خپرول نو دغه شبکه د امریکا د ادارې تر خښم لاندي راغلې وه . ددې علت داسي ښودل سوی وو چي تر دې دمخه په سیمه کي نړۍ واله رسنۍ ددوی تر انحصاري قدرت لاندي فعالیت کاوه . نیژدې ٪۹۰ ډله ائزي رسنۍ د امریکایي چارواکو په ډیکټو خپروني کولې، ددې نه علاوه د سي ان ان د خبري شبکې د پاره هم په سیمه او نړۍ کي یو مضبوط سیال پیدا سوی وو. همدارنګه د ورستیو کلونو په اوږدو کي امریکا او انګلستان د نړۍ د سیاسي تبلیغاتو انحصار په خپل واک کي درلود، د طالبانو په حاکمیت کي هم په افغانستان کي د الجزیرې د ټلویزون شتون داسي احساس هغوی ته پیدا کړوو چي د خبري او تبلیغاتي انحصار ولکه یې لکه چي د لاسه وتلې ده. له همدې سببه کله چي د الجزیرې ټلویزون په افغانستان او عراق کي د خلکو د مظلومیت ږغ را پورته کړ د امریکا تر غضب لاندي راغله، د همدې عصبانیت په وجه وو چي امریکا په بغداد او کابل دواړو کي ددې شبکې د فترونه بمبارډ کړل .

احصایي ښیي چي د مینځني ختیځ په هیوادو کي و عامو پرګنو ته د سټلایټ د لاري د الجزیرې ټلویوزون د خپرونو رسېدل ددې سیمي د ولسونوپر ذهنیتو باندي بنیادي تآثیر کړی دئ. د الجزیرې ټلوېزون د سیمي و خلکو ته د هغوی د بیان د آزادۍ یو حد ور معرفي کړ چي مخکي و هغوی ته نه وو په ګوته سوی . زیات کسان په دې باور هم وه چي د الجزیره دغه نوظهوره شبکه د دریمي نړۍ له سترګو څخه د نړۍ و پیښو ته ګوري او د خپلو نوښتونو او فعالیتو له برکته په دې توانېدلې ده چي د عربي نړۍ په را ویښېدو کي په خاصه توګه د هغه غورځنګو سره چي د امریکا سره یې نده جوړه یو لویه ځپه را منځته کړي . خو ځیني بیا د الجزیرې د شبکې په هکله دداسي یوه نظر سره ندي موافق او دغه خبره په پام کي نیسي چي دغه شبکه دداسي یوه لیبرال عربي دولت په واک کي ده چي نه یوازي د امریکا سره ډیري تودې اړیکي لري بلکه د اسرائیلو سره یې هم جوړه ده ، څکه نو هغوی ددې کار وانجام ته د شک په سترګه ګوري او په عواقبو یې سم نه په پوهیږي.

داسي لا هم ویل کیږي چي دد ې شبکې لخوا دبیان د آزادیو حدود او تبلیغاتي خط امریکا ور ټاکي او زیاته ګټه هم هغوی ځني وړي . ددې سیمي پرګنې چي سرشاره نفتي او ګازي زیرمي لري امریکا غواړي د الجزیرې د شبکې دلاري هغوی د خپلو منځني ختیځ د اوږدمهاله سیاستواو طرحو د تحقق په لوري په ځان پسې راکش کړي خو د راتلونکو کلو د پاره د نارنجي او ګلابي پاخونوپه خیر د ځان په کټه په دې سیمه کي د بدلونو د پاره زمینه برابره او خلک د خپلو اهدافود پاره و کاروي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

الجزیره پـه لږ وخت کـي د عربي او د مینځني ختیځ په هیوادو کي د یوې ارزښتناکه رسانه ای پدیدې په حیث ځان تثبیت کړ. که څه هم ددې شبکي لمړني کارمندان او مدیران د لندنه څخه یعني د بي بي سي د عربي شبکي څخه په دې شبکه کي جذب سوي دي ، خو الجزیره په دې وتوانېدله د خو کالو خلاقه فعالیتو په تر ځ کي خورا مهم ځای و ځانته کمایي کړي . دغه شبکه چي د عربي او غربي نړی د زیادو انتقادو لاندي وه خو بیا هم یې و خپلو نوښتګرو فعالیتو ته دوام ورکړی دئ . سره ددې چي ددې شبکي سره موازي نوري ټلویزوني خورا قوي شبکي لکه په سعودي عربستان کي «العربیه» او د امریکا لخوا ۳۵۰ میلیون ډالریزه «الحره » ټلویزوني شبکي ایجاد سوي دي تر څو د الجزیرې د نفوذ مخه ونیسي، خو الجزیره بیاهم د نقد او نظر په حوزو کي همداسي مخکښه پاتي ده.

دالجزیرې د خبر رسولو شبکه همدا اوس د سیمي د نورو ټلویزوني شبکو په سر کي ځای نیولی دئ، ددې سرغنه توب زیات وجوهات په ګوته سوي دي چي ترټولو مهم یې د عربي نړی په ټرلو ټولنو کي ددې شبکي لخوا دداسي خبرو او خپرونو خپرولو وه چي پخوا د عربی هیوادو او د سیمي د نورو هیوادو په ټلویزونو کي نه وه لیدل سوي .. داشاني خبري به که پخوا سي ان ان، یا بي بي سي کولي ددې هیوادو خلکو و ههغه ته د شک په سترګه کتل خو داچي نن هماغه خبري د قطر غوندي لیبراله یوه عربي هیواد په نامه د الجزیرې لخوا ورته کیږي په هغه لږ شاني باور کوي.

د ۲۰۰۱ کال په جنوري کي الجزیرې د لومړي ځل د پاره یوه مغزنه په عربي ژبه انټرنیتي خبري پاڼه ALjazeera.net هم و پرانستل. دغه پاڼه اوس څه ناڅه ۲۰۰ میلیونه لیدونکي لري.

الجزیره د خپل اوږدمهاله اقداماتو په لړ کي په نظر کي درلودل چي د عربي نړی خبرونه د مینځني ختیځ د نظره و بهرنی نړی ته ورسوي. په همدې خاطر د الجزیرې انګریزي ماهواره اې شبکه «www.Aljazeera.net/English» د ۲۰۰۶ کال دنوامبر په ۱۵ مه په انګلیسي ژبه خپلي خبري او د روانو چارو برنامي شروع کړې . ددې شبکي برنامې د هغه سټډیوګانو څخه خپرې سوې او دوام لري چي لا پخوا په دوحه، کوالالامپور، لندن او واشنګټن کي ځای پر ځای سوي وې. ددې نه علاوه په دېرشو نورو هیوادو کي هم خپلي نمایندګی لري . ددې شبکي دانګلیسي ژبي خپروني اوس په امریکا، اروپا، افریقا او د جنوب شرقي اسیا و څه ناڅه ۲۰۰ میلیونو کورنیو ته رسیږي . دغه ټلویزوني ماهواره ای شبکه ډېر ژر د منځني ختیځ د بحرانو په منځ کي و چټک شهرت ته ورسېده.

الجزیره ددې خبري پروګرام نه علاوه نور زیات خاص ټلویزوني کانالونه د خپلو خپرونو د پاره هم فعاله کړي دي. مثلاً د انګلیسي ژبي کانال، د الجزیره مستند یا ډاکومینټري کانال، د الجزیره ورزشي کانال، په عربي ژبه یو بل ورزشي کانال، الجزیره لایف ( ژوندی ) چي د یوې مهمي پیښي یا جلسي څخه بي سانسوره راساً خپروني خپروي، د کوچنیانو د پاره یو ټلویزوني کانال ، دغه شبکه په نظر کي لري چي د موسیقي یو کانال او یوه نړی واله ورځپانه هم را وباسي . د الجزیره ددغه پورته کانالو نه علاوه، الجزیره، په انګلیسي او عربي ژبو د و یب پاڼو شبکي هم لري.

د ۲۰۰۵ کال په سپټامبر کي د امریکا پخوانی پوځي دریایي افسر ،جوش رشینګ Josh Rushing د « الجزیره - انګلیسي» پروګرام لخوا چي دفتر یې په واشنګټن کي موقعیت لري، د خبریال په توګه په کار وګمارل سو . جوش رشینګ د تکزاس د پوهنتون څخه د لرغوني تاریخ او کلاسیکو مدنیتو په رشته کي لیسانس لري . نوموړی د هالیووډ د پوځي فلم جوړولو مشاور او همدارنګه د «JAG» د ټلویزوني برنامو همکار وو. د عراق د جګړې د پیل نه لا مخکي پوځي افسر جوش شینګ او د هغه یو بل ملګری د قطر په دوحه کي دمتحده ایالاتو مرکزي قوماندي په نهاد یا سنټ کام کي ( U.S. Central Comman - CENTCOM ) په کار ګمارل سوی وو. نوموړي بیا را وروسته (۲۰۰۳) دهمدې قومندانی د« کنټرول په اتاق» کي د مستنده برنامو د پاره کار کاوه . په دوحه کي د سنټکام مرکز ،په مینځني ختیځ کي د سوډانه څخه را نیولي تر قزاقستانه پوري او همدارنګه د ایران، عراق او افغانستان د ټولو نظامي فعالیتو مسؤلیت په غاړه لري .

دلته عین په هغه وخت کي هم دغه پوښتنه را پورته سوه چي څرنګه د امریکا یو متقاعده دریایي پوځي افسر پسله ۱۴ کالو پوځي خدمت نه، د الجزیرې شبکه هغه د خبریال په حیث جذبوي ، هغه شبکه چي یو وختي هغي ته د تروریستي شبکي نوم ور کول کېده؟ جوش رشینګ په راوروسته کي د *Mission: Al-Jazeera* په نوم یوکتاب و لیکه . دغه کتاب د الجزیرې د راتلونکي په هکله ډېري پوښتني را پورته کړې . په دې کتاب کي نوموړي د الجزیرې په هکله خپل خوشبینانه نظر بیان کړی دئ، او امریکا ته وایي چي څرنګه په دې سیمه کي باید «یو اطلاعاتي پل جوړ سي »!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

د بلي خوا د الجزيرې د ټلويزوني شبکې د محبوبيت اصلي وجه داهم ده چي په خپلو خپرونو کي و خپلو عربي او بهرنيو مخاطبانوته داسي موضوعګاني او خبرونه وړاندي کوي چي د هغوی و زړه ته نيژدې موضوعګاني وي ، اوزياتره يې د هغو په اړه پخوا څه نه وه اورېدلي. مثلاً د ښځو حقونه، د قرآن د آياتو په باره کي بحثونه او تحليلونه اويا د منځني ختيځ دسياسي ستراتيژۍ په هکله خبري، يا مثلاً د فلسطينيانوددوهمي انتفاضيې خبرونه، د عراق او افغانستان د جګړې سره او تازه خبرونه، يا د بن لادن ويډويي فلمونه . داسي نور بېلابېل تصويري خبرونه چي په عربي رسنيو کي يې ساری نه وو ليدل سوی. يا لکه د يوه زخمي فليسطيني کوچني ماشوم تصوير چي د اسرائيلي سرتيري لخوا په مرمی ويشتل سوی او د پلار پر زنګانه باندي سا **ورکوي. يا دحزب الله د مشر ، سيد حسن نصر الله سره مصاحبه، دا ټول داسي څه دي** چي پخوا بل عربي هيواد نه وې کړې يا يې نه خپرول . دې ټولو **و الجزيرې ته ځانګړی اعتبار ور کړی دئ.**

د الجزيرې د ټلوېزوني شبکې دغه شاني اثرناکه ميتوډ د مينځني ختيځ زياتره دولتي ټلوېزونونه دې ته اړ کړل چي د رقابت په عرصه کي خپلي خبري اوتحليلي شېوې اصلاح کړي او حتی ځيني عربي دولتونه لا دېته اړ سول چي په رسنيو باندي د خپل کنټرول يوه برخه را کمه کړي . الجزيره په دې توانېدلي ده د عربي ژبي په هيوادونو کي د عادي خلکو سياسي پوهه لوړه او د عربي نړۍ په هکله د هغوی سياسي معلومات زيات کړي . داسي لا هم سوي دي چي الجزيرې د خپلي د ژبي صراحت او جنجالي ګزارشونه په وجه په غربي او عربي هيوادو کي د الجزيرې په مقابل کي زياتي کرکي او حساسيتونه را پارولي دي ، د الجزيرې دفترونه څو واره په مختلفو هيوادو کي تړل سوي او يا ځينو هيوادو خپل ډيپلو ماتان د ځينو ګزارشو په خاطر احضار کړي دي . دغه شبکه د هري بلي غير اسرائيلي شبکي څخه ماسېوا و خپلو برنامو ته اسرائيلي مېلمانه را بللي دي.

داسي هم ګزارش ورکړل سوی وو چي په عراق کي د القاعدې پخوانی مقتول مشر ابو مصعب الزرقاوي و الجزيرې ته په يوه انټرنټي پيغام کي هغې ته « د امريکا تبليغاتي ډنډورچي » لقب ورکړی وو . خو الجزيره دا خبره ردکړې او وايي چي دا شبکه د ټولو ده، او ادعاکوي چي په منځني ختيځ کي يوازنۍ ټلويزوني شبکه ده چي له سياسي پلوه بې طرفه ده . خو ددې ټولو مثبتو اړخو سره سره دا خبره پر خپل ځای پاتې ده چي ټوله ډله ائزه رسنۍ او ټلويزوني شبکې د دې خبري په پام کي نيولو سره چي د چا په ملکيت کي ده، يو شاني سياسي خط او خپل هدفونه تعقيبوي . ځيني موضوع ګاني برجسته کوي او ځيني بيا مخ ځني اړوي بې ارزښته کوي يې . الجزيره هم ددې قاعدې څخه مستثنا نه ده. بي بي سي هم دغه لاره وهي ، مثلاً هغوی چي و غواړي د ځينو کسانو سره مصاحبه وکړي نو کوي يې خو د ځينو سره چي ضروري هم وي بيا يې نه کوي . په عربي نړۍ کي الجزيره يوازنۍ عربي ټلويزوني شبکه ده چي په اسرائيلو کي دائيمي خبريال لري او د اسرائيلي چارواکو لکه شيمون پريز او آريل شارونن سره يې مصاحبې کړي دي، حال داچي دغه شاني کار تر اوسه د عربي نړۍ په بل هيڅ هيواد کي نه وو سوی.

د الجزيره ټلويزوني خبري شبکه چي و ډيرو ته لا اوس هم يوه معما ده، د قطر د بهرنيو چارو د وزارت تر مستقيم نظارت لاندي فعاليت کوي، خو د خپل ځان د پاره يې يوه نړۍ واله اداره جوړه کړېده چي لاتر اوسه پوري د هغه په باره کي زيات څه ويل کيږي او زيات څه ليکل سوي دي . دغه شبکه اوس څه ناڅه په خپل مرکزي دفتر دوحه کي ۱۰۰۰ تنه کاري نيرو لري او د نړۍ په مختلفو هيوادو کي يې۳۰ دفترونه فعاله دي چي څه کم ۲۰۰ تنه مسلکي مامورين کار پکښي کوي . دغه شبکه نن سبا د منځني ختيځ او عربي هيوادو نه علاوه تقريباً د ټولي نړۍ څخه تصويري خبرونه او ګزارشونه وړاندي کوي.

پای

مأخذونه: زما شخصي يادښتونه او دغه لاندي منابع؛


http://en.wikipedia.org/wiki/AL-Jazeera
http://www.allied-media.com/ALjazeera/
DVF٩٥٦E-٦B٥٢-٤٦D٩-٨D١V-٤٤٨٨٥٦DolCDB.htm٥http://english.aljazeera.net/NR/exeres/
http://en.wikipedia.org/wiki/Aljazeera
http://en.wikipedia.org/wiki/Qatar
http://www.americamagazine.org/content/article.cfm?article_id=١٠١٦١
http://en.wikipedia.org/wiki/Josh_Rushing
http://www.palgrave-usa.com/catalog/product.aspx?isbn=١٤٠٣٩٧٩٠٥٧




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**يادونه**: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ